راپوروركونكي : اى اف پى (AFP).

منبع او خپريدو نيټه : انترنيشنل نيوز « 07-10-2017».

ژباړونكى: پوهندوى دوكتور سيدحسا م «مل» .

---

## ترومپ دخپل لوړپوړى نظامى استاذو په لاس پاكستان ته يوه سخته پيغام ليږى

## *Trump sends Lieutenants to Pakistan with tough Message*

*واشنګټن : جمهور ريس دونالد ترومپ په راتلونكي اوني كى خپل لوړپوړى نظامى او ديپلوماتيک مشاوران پاكستان د ګرم هستوى سلاح لرونكى متحد ته كوم چي هغه هيواد په دى تورنوى چي داسلامى سخت دريزو ترورېستانو ته پټ ځا يونه برابروى او دهغه څخه ملاتړ كوى ديو سخت تهد يد او ګواښ كونكى پيغام سره ليږيږي*



*ښاغلى تيلرسون دامريكى دمتحده ايالاتو د با ند نيو چارو وزيردځو هفتو له تيريدو څخه وروسته كوم چى **دونالد ترومپ** په قهر او غضب سره پا كستا ن په دي تورن كړ چى شورشى اواسلامى افراطى ورانكا روته پخپل خا وره كي پټ ځا يونه برابروى او دهغوى څخه ملاتړ كوى ، نودهمدى اصل په پام سا تلو سره پلان اوپروګرام لرى چي پاكستان ته دهمدى ميا شتى په وروستيو كى لاړشى اودهغه هيواد لوړ پوړى چارواكو ته د **دونالد ترومپ** له غوصى څخه د ك ګواښ او پيغام ور ورسوى.*

*اودبلی خوا څخه داسی خبر ترلاسه شوی چی د **تیلرسون** سفر پاکستان ته دامریکی د متحده ایالاتو ددفاع دوزیر **جیمس ما تیس** پاکستان ته دسفر په تعقیب ترسره کیږی .*

*د رسمی منا بعو په حواله دامریکی لوړ پوړو مقا ما تو دپا کستا ن د مقا ما توسره په دی لید نه اوکتنه کی به د **دونالد ترومپ** هغه له قهره ډ که پیغام او ګواښ وړاندی کړی چي په هغه پیغام کی پاکستان ته په داګه شوی چي هغه هیواد دی نور دجهادی ورانکارو دډلوټپلو له ملاتړ څخه لاس واخلی .*

*واشنګټن له ډیر پخوا څخه له دی نه چي پاکستان طالبانو اونورو مسلح او خرابکا ر ګروپونوسره مرستی کوی نا هیلی شوی وه کوم چی دغه افراطی جهادی ډلی دپاکستا ن دپولی څخه افغانستان ته اوړی او دامریکایی سرتیرو په وړاندي دافغانستان په دننه کي جنګیږی او هغو ته مرګ او ژوبله اړوي .*

*دیادونی وړ مطلب داچي دامریکی اودپاکستان اړیکي په کال(2011) کی یو څه خړ پړ شو او هغه هم له دی کبله چی دامریکي دمتحده ایالاتو پخوانی جمهور ریس **بارک اوباما** دالقاعدی د مشر «اسامه بن لادن » د نیولو اویا د وژلو د پاره یوه نظا می ضربتی ډ له سپاهیان پاکستان ته بی له دي چی پا کستا نی واکداران ورباندی خبر شی واستول کوم چي دغه امریکا یی ضربتی ډله « اسا مه بن لادن » د پا کستان ګارنیزیون ته نژدی په یوه نظا مي ښارګوټی کي له پټنو وغورځول او مړ یی کړ .*

*بیا دهغه مودی څخه وروسته دپا کستان اودامریکی دمتحده ایالاتو په اړیکو کی یوڅه تغیرات رامینځته شو تر هغه چي بیا **دونالد ترومپ** دامریکی دجمهورریس په صفت دامریکی واکمن شو او هغه پخبلو ویناو کی پر پاکستان باندی نیوکي اوکوت څنډ نی وکړ چي پاکستان په ملیاردونو ډالر له مونږ څخه دمرستي په بڼه تر لاسه کوی اوبیا ځمونږ دشمنانو لکه طا لبا ن ، القاعده اونور غیر مسول جنګی ورانکا ر ډلو ټپلو او سازمانونو ته پخپل خا وره کی ځای ورکوی او هغوی ته پټ خا یونه برابروی او دهغه څخه هر اړخیز ملاتړکوی .داد **دونالد ترومپ** داګست دمیاشی څرګندونه وه چي دپاکستان په ادرس باندی ویلی وه .*

*هغه څه چی دلته دهغه ویل ضرور بریښی دادی چي پرپاکستان باندی ددونالد ترومپ دورستیووګواښ څخه را وروسته په دغه تیرو شپږو هفتو کی دجنوبی آسیا په سیا سیی فضا کي یولړ مهم اودپام وړ تغیرات را مینځته شوی دي .*

*دامریکی دمتحده ایالاتو ددفاع وزیر جیمز ماتیس دامریکی په کنګرس کی دخپل خبرو په ترڅ کی وویل چي مونږ پاکستان ته یوه څه نور وخت هم ورکوو چي هغه هیواد باید پخپل دریځ کی دافغا نستا ن د مسلي په هکله یوڅه تغیر راوړي اومونږ د همدی تغیر په انتظا ر کی یا ستو وبه ګورو چي پا کستا ن له دی نه وروسته څه کوي . اوداځکه چي دپاکستان دغه روان دریځ زمونږ دمنلو وړ سیاست نه دي.*

*له بلی خوا څخه دپنټاګون یورسمی مقام وویل :چي پاکستان ته ددونالد ترومپ دګواښ*

سره سره مونږ لا تراوسه د پا کستا ن د نظا میا نو اودامریکې د نظا میا نو په اړیکو کې څه اغیزې اوتاثیر نه دی لید لی.
همدغه منبع داسې څرګند کړ چې دپاکستان دباندنیو چارو وزیر خواجه آصف په یوناڅاپې بڼې سره په واشنګټن کې ظاهر شو چې د واشنګټن دمسول مقاماتو سره ددونالد ترومپ دوروستیو څرګندونو په اړه چې دپاکستان په ارتباط کړې له نژدې وګوري .
هغه یعنې خواجه آصف پخپل خبروکې وویل هغه تورونه کوم چې په دې وروستیو وختونوکې پر پاکستان باندې لګول شوې ټول پوچ او له حقیقت څخه لیرې دي اوزمونږ دمنلو وړ نه دی چې ګڼې مونږ تروریستې ډلوټپلو ته په پاکستان کې پټ ځایونه برابروو اودهغو څخه ګټه تر لاسه کوو – آصف وویل داښه کار نه دي چې تاسې د خپل (۷۰) کلن دوست اوملګرې سره داسې چلند ترسره کویې؟ هغه دخپل خبرو په دوام کې وویل ددې پرځای چې مونږپه دي ډول اویا په هغه ډول تورنوو دا به ښه وی چې په ګډه سره په منطقه کې دسولې اودامنیت دراوستلو د پاره هلې ځلې تر سره کړو هغه د **تیلرسون** مسا فرت او د پا کستا ن د مقاماتو سره دهغه لید نه کتنه مثبت وګڼل او خپل خوښې را ښکاره کړ .
پا کستا نی خوا سربیره له هغه چې دخپل عامه خلکو نارضا یتی اوقهر دامریکې دلوړ پوړو چاروا کو دوروستیو څرګندونو په اړه بیا ن کړ په خصوصې بڼې سره شکا یت وکړ چې هغوی ته د حقانی د شبکې اود نورو افراطې ډلو ټپلو سره په اړین کوم رسمې او مستند ثبوت نه دی ښکاره شوی چې دهغه له مخې زمونږ اړیکې د تروریستا نو سره وښیې .
دامریکې رسمې مقا ما ت له ډاره چې خوندی اطلاعات افشا نشی ځنې سری او پټ اطلاعات د پا کستا ن د مسولو اطلاعاتی منا بعو سره نه شریکوی. کوم چې دا پخپله د دواړو هیوادونو ترمینځ د نا با ورۍ رغنده بیلګه دي.
لکه همغسې چې ددې میاشتې په سرکې دامریکې بی پیلوته الوتکې درې مظنون کسان دپاکستان په آزاد قبایلې سیمه کې په یوه پټ یرغل سره له مینځه ویوړل بی له دې چې پا کستا نی مقا ما ت خبر شي .
دپا کستان رسمې مقامات له امریکې څخه ددونالد ترومپ دهغه مختلط پیغام په را رسیدلو سره هم شکایت کوي اوهغه داچې هغوی لا تراوسه د مبارزې په ترڅ کې خپل خواړه د یو چالاک اومکا ر قوماندان تر سرمشرۍ لاندې ترلاسه کوی.
په نیویارک کې د سپتمبر په میا شت دهغه لید نې او کتنې په ترح کې چې دامریکې د جمهور ریس د مرستیال اود پا کستا ن د لمړی وزیر شهید **حقانی عبا سی** ترمینځ ترسره شو له دی نه چې په مذاکره اوخبرو کې سوځید ونکې خبرې او لفا ظی ونشو اوخبرې دملګرتیا اود صمیمت په فضا کې ترسره شو دواړو خواو خوښې ښکاره کړل خواجه اصف د ا مریکې د متحده ایالا تو دجمهور ریس سره لید نه مثبت وګڼل او له

هغه څخه خوښی څرګند کړ .

اما دیوځه لنډ مودی په تیریدوسره پا کستا نی مقامات د **جمیس ما تیس** او**دونالد ترومپ** دامنیتی مشا ور دهغه سخت نیوکی او ګوتې څنډی څخه چي دپا کستان په ادرس ترسره کړ هک اوپک شول اوهغه داچي د امریکی دغه دوه لوړپوړی مقا ما ت پا کستان د یو دروغجن دوه مخي او فریب کار هیواد په نوم یاد کړل .

دبلی خوا څخه په دی وروستیو وختونو کی ځنی خوشباور حلقی او ډلی دپاکستان دپوځ دارکان دریس دکا بل دلوړ پوړو مقا توسره په کتنه کی چي دافغانستان په پلازمینه کا بل کی تر سره شو په نیک نظر سره ګوری اوداسی ګڼی چي ممکن اسلام آباد پس له دی به دطالبانو اود نورو جنګی افراطی ډلو تیلو څخه ملا تړ ونکړی اود هغوی تر شا به نور نه دریږی. اما ډیر نور خلک بیا په دي با ور دی چي د پاکستان ددوه مخي سیا ست په لرلو سره پاکستان اصلاً داعتبا ر وړ نه دی اوپرپا کستان باندی با ورکول بیځایه دی او داځکه چي پا کستان پخوا هم داسی ورته وعدی څو څو ځلی کړی وه اوبیا له خپل وعدی حخه تر شا شوی دي .

سیاسی کارپوهانو بیا په دي نظر دي چي پا کستان د طا لبا نو اودلشکر طیبه څخه د بشری قدرت دابزار او دوسیلی په بڼه ګټي تر لاسه کوی .

په جورج ګیتون(Geor Getown) پوهنتون کی دسهیلي آسیا یوکار پوه اومتخصص آغلی کریستین فایر(Christin Fair) بیا په دي با وردي چي هغه دپا کستان په دریځ کی د کوم مثبت بدلون په انتظارکي نه دی او دا ځکه چي پا کستا ن نه غواړی چي له خپل اوسنی دریځ څخه لاس پرسرشی او پا کستا ن هغه څه چي اوس ترسره کوي په راتلونکي کی به هم بیا تر سره کړي مګرداچي که کوم بل اداره اودولت په پاکستان کي یوه کوم بل لاره کشف کړی ؟ کوم چي لاتراوسه د پا کستا ن واکداران هسی لاره نه دی کشف کړی اوخبره داسی لنډوو چي دپاکستان موجوده دریځ دهغه هیواد په ګټه دي .نو پا کستان ددغه دریځ په لرلو سره باید په مفهوم شوی بڼی سره مجا زات شی .

**دونا لد تر ومپ** پا کستا ن ته د نظا می مرستي په اړین داسی ګواښ کوی چي امریکی کوم چي د (2012) او (2016) کا لونو په موده کی پاکستا ن ته خپل نظا می مرستی ترنیمای حده پوری راټیټه کړ مونږ به دهغی څخه لا پیسی خپل مرستی به کمه کړو چي بیاهم دهغی سره سره زمونږ دغه حرکت دپاکستان په مقابل کی ناکافی دي .

دونالد ترومپ وویل چي مونږ به هغه پیسی کوم چي دامریکی مالیه ورکونکی له خوا دپا کستان په نامه ورکول کیږی هغه پیسی به کنګل کړو اونه غواړو چي پا کستان ته ورکړل شی .

کریستین فایر وویل : داچي امریکی پاکستان ته خپل مرستی کموی پاکستان ته جزا ورکول نه دي اودا ځکه چي پا کستا ن حق نه لری چي زمونږ پیسي خپل حق الزحمه

وبولی اوداسی ادعاوکړی چی دا پیسی ډیر کم پیسی دي .
پالیسی جوړونکی داسی انګیرل چي پاکستان ته دغیر «ناتو» غړو هیوادو همپیما نا ن خپل ژور سمبولیک محدود مرستی به په عملی بنی سره لغوه کړي.
پر پاکستان باندي جزایی اقتصادی تحریمونه وضع کول کیدای شی چي پاکستان ترکیی چین یا روسي ته رانژدی کړی کوم چی دا موضوع ډیر اوږد اوزیات زمان ته ضرورت لری .
اما هغه څه چي دهغه یادونه دلته ضروری ګڼل کیږی هغه دادی چي د پاکستان مسیر په افغانستان کي دامریکي د نظا می قوتونو د لوژیستکی موادو دتا مینولو دپاره بیاهم یو حیاتی لاره اومسیر با قی پا تي کیږي .

------------------------------------- **په سلامونو** **«2017-10-11»**